
Preview (1 - 10) - ketabton.com



# وطنه ستا لیوني!

(د هاشم لوګري د ژوند، تېرې، هېرې، نوې زړې...)

محمد الله همیم

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# وطنه؛ ستا لیونی!

(د هاشم لوګري د ژوند؛ تېرې، هېرې، نوې زړې...)

S_😍_K

A.L.B

لیکوال: محمدالله همیم

Preview (3 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Preview (4 / 10) - ketabton.com

مازیـگرکتاب پـلورځی

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : وطنه؛ ستا لېونی!
لیکوال : محمدالله همیم
ډیزاین : ثناءالله ځواب
خپرندوی : مازیگر کتاب پلورځی
چاپ کال : ۱۴۰۳ لمریز
د خپرونو لړ : (۸۱)
د چاپ شمېر : ۲۰۰۰ ټوکه

حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

ادرس: مازیگر کتاب پلورځی/مینه یار مارکېټ/کوټه سنګي/کابل
۰۷۸۲۴۲۴۵٦٦

Preview (5 / 10) - ketabton.com

## ډالۍ:

- ملنګ ملګري (کړاو منګل) ته، چې ویلي یې دي:

لېوني خو څه ښکر نه لري کړاوه
همدا مور یې مستندې حوالې یو

- ګل لالا (عزت الله ځواب) ته، چې دې کیسې ژړولی دی.

راته ویل یې:

«زه په کې ځان ګورم یاره!»

Preview (6 / 10) - ketabton.com

## شهکار کیسه

د همیم د خوږې لیکوالۍ په اړه مې ډېرو ته ویلي. دا په څهره سوزېدلی اوس د لوستونکو په زړونو کې خاص ځای لري، په دې خاطر چې ځان د لیکوال په نوم پېژندل نه غواړي، بلکې له طبیعت او مخلوق مینه را ټولوي او دوی ته یې وړاندې کوي... د شعر په شان د لیکوالۍ لورینه هم پرې شوې خو د ده ځانګړنه دا ده چې لیکل په ډېر اخلاص کوي، له زړه لګیا وي.

همدا یې لویي ده... زه یې چې لولم، نو رامالومېږي په نثر کې یې دا زور شته، چې نا منونکي په خلکو ومني...

هسې خو ورکو، پټو، روغو، ماتو، غورځېدلو... پسې وګرځېد، ویې غږول، د ژوند خواږه یې راټول او بیا یې په داسې شاعرانه ژبه ولیکل چې تر اوسه د لوستونکو په زړونو ولاړ دي او ښه احساس کوي.

Preview (7 / 10) - ketabton.com

خو دا خلې يې ژور نظر هاشم ته واوښت، درک يې کړه چې شته ډېر ځه، پاڅېد، لاره يې بدله کړله، ورغی، اول يې دوکاندار عيدو وليد، ملګری يې کړ، بيا يې هاشم وليد کاکا يې ورته ووېل، په ډېرې سپين سترګی پسې هرځای ورغی، خپله ترې پخوانی تکړه هاشم جوړ شو، تر لېرې کوږي ماما هم ورسېد... ډېر يې وغږول، ان که هغه لارې چې هاشم پرې ګرځېدلی، هغه ونې چې سيوري ته يې ناست شوی او هغه غرونه غږېدلی چې هاشم به پرې نه ستړی کېده، نو ده به غږولي وای، خو... دی د هغوی په څېر ګونګی کېږي، دا چوپتيا ليدل او اورېدل غواړي. لنډه دا چې: ليکوال يې د يو لېوني ژوند ته دومره ور ننوت، چې اوس پرې خلک مينوي، د انسان تعريف يې وګرځاوه. په همدې دليل (وطنه، ستا لېونی!) شهکار کيسه ده...

دا داستان د جادويي رياليزم په سبک ليکل شوی، مانا دا چې د خيال او واقعيت يوه داسې ګډوله ده؛ لکه د ګلونو په غونچه کې رنګا رنګ راټول وي او کرکټرونه يې سره نه شي بېلېدلی.

درناوی

عطا الله ځواب

Preview (8 / 10) - ketabton.com

**یادښت:**

هاشم زما د وطن لېونی دی، زما د وطن کیسه کوي. یوازې هاشم نه، د وطن ټول هاشمان درته تېرې بدمرغۍ یادوي، په مخونو یې د وطن انځور رسم دی. ما به چې هاشم ته کتل، لېونی نه راته ښکارېده، خپل وطن مې لیده.

ډېر بختور به یم که د دې اثر تر لوستلو وروسته د هر لېوني په سترګو کې همداسې داستان ولولئ.

ځینې کیسې به بشپړې نه وي، د هاشم د کورنۍ محدودیت او زما مجبوریت یې وګڼئ.

د دې کتاب په لیکلو کې ملګري داود «تپان» زما تته اراده، سپرغۍ کړه. (وطنه، ستا لېونی!) نوم راته ډېر مهربان پیرمحمد کاروان خوښ کړ، څو د زړه خبرې یې غزلیزې کړې. ملګري عطاءالله ځواب را سره د کتاب چارو کې سترې شو. د دوی ټولو مینې او اخلاص ته به له خدایه ج بدله غواړم.

مازیګر دې همداسې د علم او هنر په وړانګو روښانه وي. د خالق زیار خبره:

زاهده په جنت کې به پرانیستې تنۍ ګرځم
ترلې مې ټول عمر له خوارانو سره ملا ده

محمدالله همیم

Preview (9 / 10) - ketabton.com



***

د کرزي وخت و، یو چا تور پټکی وهلی، ږیره یې تکه شنه کله کړې. نري، نري برېت یې پرېښي. سپین ازاد کالي یې پر تن دي، د خړ دېوال ډډې ته ناست دی، څوک موبایل ورکوي: «واخله، باچا دی، ورسره وغږېږه!» دی موبایل ترې کشوي. له غوسې خوټېږي، موبایل خولې ته نږدې نیسي: «کرار ناست یې، د باچایي نوم دې اچولی، دا خلک (امریکا) دې راوستي، پرې غرق دې موږ کړو. نه عریضه چلېږي، نه خبره چلېږي. موږ ته خلک راځي، موږ نه پرېږدي، موږ بمباروي.» د دې خبرو منځ کې یې دومره کنځاوې وکړې، چې نور سترې شو، ساه یې لنډه شوه، موبایل یې وغورځاوه: «لرې که سریه، زاره چاودي یې کړو.»

ناستو په ده خندل، چې څنګه یې په رښتیا ومنله، چې له باچا سره غږېږي، ده همغسې کنځاوې کولې. ما همغه وخت اول وار له ځهرې ولید، چې دا سړی (هاشم لوګری) دی. چې په خلکو کې په (هاشم لېوني) مشهور دی. ګني نامه مې یې له دې مخکې اورېدلې وه. هغه وخت مې له ډېرو نورو خلکو سره د ده ویډیوګانې او ثبت غږونه لیدلي

Preview (10 / 10) - ketabton.com



ول. چې له کنځاوو به خالي نه وې، د ده خبرو کې کنځا ضرور ملګرې وه.

چا موبایل ورته نېولی:

ـ هاشمه دا خلک وایي، چې ته دومره زورور یې، دا کنځاوې ولې کوې؟

ـ نه جایېږي، په زړه قران که جایېږي، ځې کنځا ونه کم بوج نه سپکېږي.

هاشم له خندا شین شي:

ـ خدای راستي لکه زمي کې ځې له واورو بامونه تور کې، داسې زړه مې سپک سي.

بل ځل چا ته مخامخ کنځا کوي، خو وروسته خاندي، لکه خپله ملامتي یې چې منلي وي: «خو لېونی یم، ځې لېونی کولم مو اوس خو به کنځاوې اورئ.»

ځوک د هاشم کلي ته ورغلی. زېړه لونګی یې وهلې د پاخه عمر سړی دی. کمرې ته یې مخ واړوه: «دوستانو! ماشومانو ته مو کتابچې و قلمونه راوړل. اوس به یې ورته ووېشم، چې سبقونه ووایي، د اینده ډاکټران، انجینران شي. هغه دی هاشم لېونی ام را روان ده، تاسې به یې ټول پېژنئ.»

هاشم را رسېږي. غوسه ورغلې وي، له سلام، کلام مخکې ورته وایي:

ـ چیشته راغلی یې؟

ـ ماشومانو ته مو کتابچې راوړي، تا پسې نه یم راغلی، لېونیه!

هاشم کیسه ورته کوي:

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/QeDQt8eiST6

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.